د افغانستان اسلامی جمهوري دولت

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

وزارت امور سرحدات وقبایل

## *Islamic Republic of Afghanistan*

### *Ministry of borders and tribal Affairs*

شالید:

د افغانستان د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت یو رهبري کوونکی وزارت دی، چې د قبایلو او د سرحد مېشتو خلکو د ملاتړ او د هغوي اړتیاوې د رابر سیره کولو او د حل په برخه کې همکار دی.

ددې ترڅنګ دغه وزارت د ملي یووالي، سرحدونو ساتنې او د هیواد په کچه د ټولنیز عدالت او د متوازنې پراخیتا فضا رامنځته کولو مسؤلیت پر غاړه لري او همدارنګه دغه وزارت هڅه کوي، چې د ملیت ،قومیت او د جنسیت په نظر کې نه نیولو سره د افغانانو د سوکالۍ لپاره بیلا بیلې کړنې ترسره کړي او هڅه کوي، چې د خلکو او دولت ترمنځ واټن له منځه ولاړشي او د یو موټیتوب او د باور فضا پیاوړې کړي او دغه ځوریدلي او جنګ ځپلي هیواد ته د سولې او ثبات په راوستلو کې مرسته وکړي .

د لنډ مهاله سروير بست مالومات

| | |
|---|---|
| دندې عنوان: | لنډمهاله سروير |
| وزارت یا اداره | سرحدونو او قبایلو چارو وزارت |
| اړوند برخه: | سرحدونو او قبایلو د اطلاعاتو مدیریت پروژه |
| بست ځای: | غزني |
| بست شمېر: | ۱۹ |
| راپور اخیستونکی: | د سرحدونو او قبایلو د اطلاعاتو مدیریت پروژې ولایتي مسؤل |
| کد: | ۰۰۳ |

دندې موخه :

د ولایت په ولسوالیو او کلیو کې سروې او مالومات را ټولول.

## د دندې صلاحیتونه او مسؤلیتونه:

- د جوړو شویو پوښتلیکونو په اساس له اړونده کلیوالي سیمو او د ولسوالۍ له اداري واحدونو څخه د کره مالوماتو راټولول.
- د کلیو له ملکانو، قومی مشرانو، دیني علماو او فعاله ځوانانو سره مرکې کول.
- سرویر باید جي پي ایس او او ډي کې سیستمونو دکاروني سره پوره بلد تیا ولري.
- د مالوماتو راټول باید د مرکې او مشاهدو په نظر کې نیولو سره ترسره شي.
- په کلیوالي سیمو کې د اړتیا اړوند دګردي میزونو یا ( فوکس ګروپونو) جوړول.
- په راټول شوو مالوماتو کې له کتنو وروسته کومې نیمګړتیا موجودې وي د حل په موخه بیا ځلي  اړوند سیمو ته د سرویرانو تلل.
- سرویر باید د ورکړل شوي پلان مطابق اړوند سیمو ته سفر وکړي او ټاکل شوي کړنلاره په پام کې ونیسي
- د هرې کاري ورځې په پای کې د پروژې ولایتي مسؤل ته راپور ورکول.
- د راټولو شویو مالوماتو محرمیت ساتل او له نورو ادارو او چاراواکو سره نه شریکول.
- سرویر باید د خپلې اړوند ولسوالۍ ټولو سیمو ته د سفر وړتیا ولري.
- د نورو هغو دندو سرته رسول چې د پروژي ولایتي مسؤل له لوري ورسپارل کیږي.

## زده کړو کچه:

بکلوریا، فوق بکلوریا او لسانس ته ځانګړی امتیاز ورکول کیږي.

## کاري تجربه:

لږ تر لږه د سروې، مالوماتو را ټولولو، څیړنې  او یا هم په اړوند برخه کې د یو کال کاري تجربې درلودل.

## د بست اړوند مهارتونه:

- پښتو او دري ژبو سره بلدتیا ولري.
- د اړوند ولسوالیو ټولو کلیو ته سفر وکړای شي.
- د راپور ورکړې په برخه کې پوره مهارت ولري.

## د اسناد لیږلو لاربنود:

پرشرایطو برابر نوماندان کولای شي خپله سي وي د غزني ولایت د سرحدونو او قبایلو چارو آمریت او یا هم دغه بریښنالیک ( baratkhanm@yahoo.com) ته د پای نیټې له را رسیدو څخه مخکې ولیږي، چې د بریښنالیک په عنوان او همدارنګه په خپله سي وي کې په ښکاره توګه د بست عنوان، ولایت او ولسوالی لیکل شوی وي. نه لیکلو په صورت کې نوماند له شارټ لیست څخه پاته کیږي.

## یادښت:

د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت هیڅ ډول مذهبي، قومي، ژبني  او جنسي توپیر پرته ستاسو را لیږل شوي غوښتنلیک را ټولوي او په پوره شفافیت سره پروسه پر مخ بیايي. هغه غوښتنپاڼې چې اعلان د پای له نیټې څخه وروسته را ولیږل شي د منلو وړنه دي.